(c) ketabton.com: The Digital Library

# زیری

په ایینو د نرگس ستا د انځور رنګ را درومي
خود به د وخت د ښایستونو تر منځ جنګ را درومي

بلا دې واخلم زیری واخله د فطرت ښاپیرۍ
ستا د سندرو په ځوندې بوی د لونګ را درومي

زاهد دې وپیيي تسبې د حورو شنو خالونه
مونږ ته دا بس دي چې په لوړ غږ د جام کړنګ را درومي

هر مازدیګر زما د زړه د وینو تږی جانان
د خپل قلنګ په غوښتو بې کچې بد رنګ را درومي

په سرو ګوتکیو د جلان د زړه ټوټې ټولې کړه
د روح لاسو ته یې د مرګ د زنځیر شرنګ را درومي

۱۳۸۰ د وری ۱۸
اریوب ځاځي خیر مېنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غبز مې ورک دي

غږ مې ورک دي مورې مورې سترې غږ په چا وکړم؟
اخ په خدای نیمګړی شوم نیمګړی غږ په چا وکړم؟

ای ادکې !ووایه بچیه راته ووایه
اوښکې اوښکې زړه مې دي راوړی غږ په چا وکړم؟

خوله د ښیرازۍ مې په ډېرو د وخت ماته شوه
مینه مینه ژوند مې اوبو وړی غږ په چا وکړم؟

ژوند مې له یاغي ځوانی نه ځلی د ایرو جوړ کړو
ډیر یم طبع خړی طبع خړی غږ په چا وکړم؟

بیا یې مې جلانه !اندیښنې د ژړا غرونو ته
ستونی کې مې پروت د سلګو پړی غږ په چا وکړم؟

۱۳۸۳

اریوب ځاځي خیر مېنه
د خوږې مورجانې د مړینې په وخت

